هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

پرله پسې گڼه «۲۱۷» اوم کال «۱۹» گڼه دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال داسد «۱۴» د ۱۴۱۲ هـ ق کال دمحرم الحرام «۲۵» اود ۱۹۹۱ میلادی کال د اگست «5»

PROPERTY OF ACKU

په ترکیه کې داسلامي هیوادونو دبهرنیو چارو وزیرانو کنفرانس ته دمؤقت حکومت دصدراعظم اودافغانستان داسلامي اتحاد دامیر پوهاند سیاف سر خلاصی لیک

دالبنیان خبری آژانس :- گرانو وروڼو – السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

که څه هم ددې امکان ډیر ضعیف ښکاري چې تاسو به په خپل تصمیم کې بدلون راولئ، خو زه دامانت دادا او په تاریخ کې داتمام حجت په خول ددغې ورقې دتثبیت په منظور دالیک در استوم.

دافغانستان مسلمان ولس په مشخصه توګه دروسانو په خلاف جهاد نه وو پیل کړی ، بلکې په خوا دزې چې روسان افغانستان ته داخل شي دهغوڅخه شوروکسانو په خلاف یې جهاد پیل کړی وو چې دخپل ولس ، دین او عقیدې له چوکاټ نه بهرونلي اودخپل ملک دنوامیسو په خلاف یې سنګرنیولی وو.

مجاهدینو په خپل ملک کښې یو غیر اسلامي نظام او دنامسلمانو عناصرو حکمرانی هیڅکله منلای نشوه ، نوهمدا وجه وه چې توره یې راپورته کړه تر څو دخپل دین او وطن دښمنان تسکور کړي اوهغه دولس دمسلمانانو او اصیلو بچیانو په لاس یو اسلامي نظام قایم کړي.

کله چې دبهرنیو ایجنټانو حکومت دمجاهدینو دګوزارونو په وړاندې کمزوری شونو روسانو دهغوی دحمایې اودمجاهدینو دټکولو پخاطر پوځي مداخله وکړه.

روسانو په لومړی وار دا په خیال کښې نه درلوده چې پدې ملک کې ګوتې ولګوي بلکې دهغو سترمطلب دا

دافغانستان اسلامی اتحاد په اسلام آباد کې دپاکستان ایران اومجاهدینو ترمینځ ګډه غونډه ترک کړه

د افغانستان د اسلامی اتحاد یوې مسئولی منبع د البنیان د خبري آژانس ددې پوښتنې په ځواب کې چې ولی مودغه درې اړخیزه غونډه ترک کړه داسې ووېل :

داڅکه چې ایرانیان د افغانستان دآزادی په فکر اوهلته د اسلامی نظام د قایمیدو په تصور اودجهاد د اهدافو اومقاصدوسره سم دافغانستان د قضیې د حل لپاره نه ؤ راغلی ، بلکې هغوی له خپل راتګ څخه درې مطلبه درلودل :

۱– ایرانیانو غوښتل چې داغونډه خلورجهته ولری : ایران ، پاکستان ، په پاکستان کی میشته جهادی تنظیمونه اوپه ایران کی دیره ګروپونه چی ورڅخه مستقیماً د افغانستان دتجزیې اوویش بوی راپورته کیږي .

۲– داچې خپلو پلویانوته په افغانستان کی زیاته برخه تثبیت کړي حال داچې دا د افغانستان په کورنیو چاروکې مستقیمه اوناروالاس وهنه ده .

۳– ددې دملګرو ملتونو د طرحې دتحمیلولولپاره کوښش کوي ، پداسې حال کې چې موږ لا د پخوا څخه دغه طرحه رد کړیده .

نوموړ نه په خپلوکورنیو چاروکې دچا لاس وهنې منلای شو اونه تحمیلي پلانونوته ولوګه د هرجهت لخوا وی غاړه ایښودلای شو . اونه دې ته اجازه ورکوو چې هیواد مو تجزیه شي .

موږ د ایران له دریځ څخه سخت خواشیني اوپه تعجب کی یو ، افغانستان په څه حال کې دی اوددې چې ځانونه د اسلام ټیکه داران بولی په څه حال کی دی ؟ هماغه د فارسی ژبی مشهور متل دی چې وایی «بزدرغم جان کندن وقصاب درغم چربو» موږ د اسلام ترسیوری لاندې د افغانستان د آزادی په غم کی یواودوی دخپلو ملګرو دبرخې دزیاتولوپه چرت کې دي .. !!

نوموړی باصلاحیته منبع په پای کی ووېل چې : ټول باید پدې پوه شی چې داورځې به هم په موږ باندې تیرې شي ، خو انشاء الله چې خدای به زموږ د خوښی آزادی راولی ، ولی ددې مجاهد ولس سره دښمنی نه تنها چې ناروا کاردی بلکې آینده عواقب به یې د ټولولپاره دردونکې وي .

که څوک زموږ په زخمونوچې نشی لګولی نوماګه دی هم وربانډی نه شیندي !! موږ په راتلونکی کی له ټولوسره دنیکو اوحسنه روابطو غوښتونکی یو، او غواړوچې دمسلمانانو مټ اوبازو اوسو ، دوی هم باید دامټ اوبازو په خپل لاس غوڅ نکړي ، ځکه دابه پدې منطقه کې نه اوس دمسلمانانو په خیر اومصلحت وي اونه په آینده کښې.

د اسلام آباد کنفرانس اودهغه څخه دمقاطعې دلایل

دویم مخ

ولسوالي واخان در مرز روسیه به تصرف مجاهدین درآمد

راپورهاي واصله ازولایت بدخشان حاکیست که مجاهدین به سلسله حملات ظفرمند خویش ولسوالي واخان راکه در مرز چین ، روسیه و پاکستان موقعیت دارد به تصرف خود درآوردند ، طبق راپورکه مجاهدین ارسال نموده اند فتح این ولسوالي بساعت ۹ صبح (۹) اسد نصیب مجاهدین گردید .

قابل یادآوریست که ولسوالي مذکور ازنقطه نظر ستراتیژي براي مجاهدین از اهمیت خاص برخورداراست ، وموشك هاي دوربردروسها درین نقطه جابجا شده است. واخان که درجوار پامیر موقعیت دارد ازسالها به اینطرف تحت تصرف روسها بوده و این نخستین حمله مجاهدین براین شهراست.

به اثر عملیات مجاهدین در ولایت جوزجان یك پوسته رژیم کابل تخریب و ۵نفر ازافراد نظامي هلاك گردیدند

یك منبع جهاد ي به میدیا گزارش میدهد که مجاهدین بروز ۳۰ جولاي بالاي پوسته هاي امنیتي پایپ لاین انتقالي گاز ولسوالي سریل درولایت جوزجان حمله نمودند که درنتیجه یك پوسته درمنطقه جرقدق تخریب (۵) نفر ازافراد رژیم هلاك و (۵) تن دیگر باسلاح دست داشته شان بامقداري کافي مهمات نظامي به اسارت مجاهدین درآمدند . (میدیا)

د جلال آباد – کابل په لویه لاره د مجاهدینو او د کابل د ملحد رژیم د قواوو ترمینځ سخته جګړه روانه ده

په پښتنلوړکې یو جهادي خبرځای دجلال آباد – کابل دلاري قوماندانانو دراډیوئي پیغامونو په حواله (میډیا) ته رپوټ ورکړی چې مجاهدینو په ګهوبریدونو کې ددغې لوئې لارې په اوږدو کې درژیم په مرکزونو دشپیږمې ورځې لپاره دوام ورکړیدی داګست په دریمه دورځې په (۱۲) بجو دکابل ولایت دسروبي دولسوالي دملاعمر قرارګاه مجاهدینو فتح کړي (۱۲) عرادې زرهپوش ، دوه عرادې ټانکونه یوه بطریه یو اوبوس توپ دوه جیپونه او په زیات مقدار کې دسکر شل ګولې په ولجه نیولي دي .

دریوټ مطابق پدې جګړه کې درژیم قواؤ ته زیات ځاني اومالي تاوان اوښتلی او هم دسروبي په سیمه کې ددښمن دقواؤ (۱۵) مرکزونه ویجاړشوي اوپدې سیمه کې پاتې نوري ځالي دویجاړیدو په درشل کې دي .

خبرځای په بیل رپوټ کې زیاتوي چې مجاهدینو داګست په دریمه دغرمې په (۱۲) بجو دراکټونو په وزو دجلال آبادښار په لویدیزه دورونټي دښند دوسلو دوه قرارګاوي سوځولي چې لوګی اودلور لبې دوراندې ښکاریدې .

خبرځای وویل دغه راز مجاهدینو داګست په دویمه دلغمان ولایت دو سرکي ته نژدې په خپروخپلو کې درژیم دپوستونه (۱۱) عرادې ټانکونه ، دوه دبي ام (۲۱) دستګاوي ، یوه دبي ام (٤۱) دستګاه توپونه اونوري زیاتې درندې اوسپکې وسلې دمهماتو سره په جګړه کې نیولي یو شمیر درژیم افراد وژل شوي اویوشمیر نورټې تښتیدلي دي .

دغه راز رپوټ زیاتوي چې دلغمان دسرخکانو دپل په پوستو او دورونټې په طرف مجاهدینو سخت ګوزارونه پیل کړل چې په نتیجه کښې ددښمن قرارګاه داګست په خلورمه نیټه فتح او یوزیات شمیرملیشه قواوي وژل شوي او نوري په شاتبول شوي دي .

دېلي خوا مجاهدینو دجلال آباد دشمال خوا ددشت ، ګمبیري ، خیوې او عدل خیلو ترګې له خوا درژیم په قواؤ په ګډه سره بریدونه پیل کړي چې دداوړو خواؤ دتلفاتو دقیق رپوټ لاندې ترلاسه شوي . دیو خبر ځای مطابق درژیم جټ الوتکو په ټولو محاذونو بمباري پیل کړې چې داګست په دومه دغوګباټو دنیملې په کلي کې دري سپڅې شهیدانې اوخلورتنه نور سخت ټپیان شویدي .

خبرځای زیاتوي چې مجاهدینو دسروبي ولسوالي په لرخنیزه دوربمبین تنګي په سیمه کې دمشعلي پوستي ۸ تنه ګلیم جمع ملیشه وژلي او (۲۰) تنه ملیشه دیوبیکا او ٥ کلاشنکوفونو سره نیولي او تقریباً (۱۰۰) تنه نورګلیم جمع ملیشه دپیسی په وخت کښې دکابل سیند ورې دي .

په خبر کښې زیاته شوي ده چې دکابل رژیم یوه جټ الوتکه چې دنورو الوتکو په ملګرتیا یې دجلال آباد اوسروبي ترمینځ دوربمبین تنګي ته نږدې دمجاهدینو مرکزونه بمباري کول دهوائي ضد وسلودوزو پواسطه دسروبي په دښته کې ځمکې ته رانسکوره کړای شوه چې الوتکه داورلمبه اوعمله یې پکښې له مینځه تللي ده .

دریوټ مطابق مجاهدینو دجلال آباد په هوائي ډګر او نورو پوځي مرکزونو باندي دسکر شل ګولي وورولي دي چې درژیم قواؤ ته پکښې دسر اومال درانده تاوانونه اوړیدلي دي . .

ریوټونه وائي چې جګړه لاتراوسه دوام لري خو دمجاهدینو دپرله پسې سختو ګوزارونو په اثر درژیم دقواؤ روحیه ډیره ضعیفه شویده اودجګړې څخه یې کرکه اونفرت زیات شویدي . (میډیا)

یك هیئت حکومت مؤقت اسلامی افغانستان غرض شرکت درکنفرانس وزرای خارجهٔ کشورهاي اسلامی عازم ترکیه گردید

به گزارش آژانس خبري میدیا یك هیئت پنج نفري حکومت مؤقت اسلامي افغانستان تحت ریاست پروفیسور برهان الدین رباني سرپرست وزارت خارجه غرض شرکت درکنفرانس وزراي خارجه کشورهاي اسلامي که دبروز (٤) اگست درشهر استانبول ترکیه دایرگردید بتاریخ ۳۱ جولاي ازاسلام آباد عازم آنکشور گردید .

اعضاي هیئت حکومت مؤقت دربن کنفرانس عبارت اند ازداکتر نجیب الله (لفرائي) وزیر دعوت وارشاد ، حامد کرزي رئیس روابط خارجي ریاست دولت اسلامي ، اسماعیل صدیقي رئیس کمیته سیاسي حرکت انقلاب اسلامي وصدیق سلجوقي رئیس کمیته سیاسي محاذ ملي اسلامي .

این دومین مرتبه است که پس ازتشکیل حکومت مؤقت اسلامي افغانستان هیئت حکومت مؤقت درکنفرانس کشورهاي اسلامي شرکت مینماید . بعد ازتجاوز روسها به افغانستان ، چوکي افغانستان درسازمان کنفرانس کشورهاي اسلامي بحالت تعلیق درآمده بود .

۱۲ ملیشه رژیم کابل در ولسوالي گرشك ولایت هلمند اسیر مجاهدین گردیدند

یك منبع جهادي ازکویته به میدیا گزارش داد که مجاهدین به تاریخ ۳۱ جولاي بالاي پوسته هاي امنیتي ولسوالي گرشك ولایت هلمند حمله نمودند که در نتیجه دو پوسته حریق گردیده هفت تن ازملیشه هاي رژیم کمونستي کابل هلاك و ۱۲ تن دیگر آنها اسیر مجاهدین گردیده است.

خبرمي افزاید که درین حادثه (۹) میل کلاشنکوف ومقادیر زیاد مهمات و مواد خوراکي به غنیمت مجاهدین درآمده است .

د اسلامی کنفرانس د هیوادونو د بهرنیو چارو دوزیرانو غونډه په استانبول کښې پیل شوه

(استانبول)

د ترکیې د استانبول په ښارکښې د اسلامي کنفرانس د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډه پرون د یکشنبې په ورځ له غرمي نه وروسته د ترکیې د جمهور رئیس تورګوت اوزال په افتتاحیه وینا سره پرانستل شوه .

په دغې پنځه ورځني غونډه کښې به په منځني ختیځ کښې د امن راوستو او دېولي اسلامي نړۍ په هکله غور اوبحثونه ترسره شي .

د اسلامي کنفرانس د بهرنیو چارو دوزیرانو په دې شلمه غونډه کښې لرتر لره (۶۰) کسان ګډون کوي چې د دوي تعلق د ٤۳ اسلامي هیوادونو سره دی .

پدې کنفرانس کښې به په اقتصادي ، سیاسي او فرهنګي مسئلو په اړه کوم چې اسلامي نړۍ ورسره مخامخ ده ، خبري اترې وشي ، او ددې لپاره یې خلور کمیټې جوړې کړیدي .

پدې کنفرانس کښې به د اسلامي نړۍ پورې مربوطو راپیښو مسئلو، له هغې جملې نه په منځني ختیځ کښې د امن راوستلو کنفرانس ، په کویټ باندې دعراق د پوځ د برغل ، د عراق راتلونکې او په افغانستان کې دروان جهاد اود روسیې په جمهوریتونو کښې اوسیدونکو مسلمانانو په باب بحث وشي .

د پاکستاني منابعو د خبرله مخې دکشمیر په مسئله به هم خبري کیږي .

د یادونې وړده چې په دغه کنفرانس کښې د مجاهدینو هیئت هم ګډون لري اوکوښش به وکړي چې د افغانستان دجهاد د ملاتړ په هکله د اسلامي نړۍ نظر راجلب کړي .

تأسیس یك دانشگاه اسلامي در فرانسه

رادیو آلمان – ۱۰ اسد

انجمن اسلامي فرانسه درنظردارد با تأسیس یك دانشگاه اسلامي در رشته هاي شرعیات ، تاریخ و فرهنگ به ملیونها مسلمانیکه بطور دایمي در اروپا اقامت دارد کمك کند .

ظهیر محمود آمر این دانشگاه اخیراً

د فاریاب مجاهدینو د پرلپسې بریدونو په ترځ کې (۲۱۱۰) تنه ملیشه ژوندي نیولي او (۵۲۰) میله وسلهیې ولجه کړیده

دمیډیا خبري آژانس دفاریاب ولایت څخه رپوټ ورکړي چې مجاهدینو دفاریاب ولایت دشرین تګاب ولسوالي په لویدیځه لس کلومتري کښې دشوربازار ، آستانه بابا ، لغمان په شمول درژیم دملیشه ؤ دقوماندان رسول پهلوان تر کنترول لاندې لس کلي دجولاي د(۳۰) نه داګست تر دویمې نیټې پورې دپرله پسې حملو په نتیجه کې آزادي کړي او اوردي زره تنه ملیشه یې بندیان کړي او (۵۲۰) میله درنده اوسپکه وسله یې په ولجه نیولي دي .

دریوټ مطابق په دې بریالي فتحې سره مجاهدینو زیاته علاقه دخپل کنټرول لاندې راوستې او دآزادوشوو سیمو څخه یې دملیشه ؤ کورنۍ داسلامي همدردۍ په بنیاد امن ځایونوته انتقال کړیدي .

دخبر مطابق دانتقال شویوکورنیو سره دخوراکي اوامدادي موادو په هکله لازم تدبیرونه نیول شویدي .

رپوټ زیاتوي چې دجګړې په دوران کې دوه ټانکونو اوددري مخابرې دستګاو دولجه کولو نه برسیره درژیم قواؤته زیات ځاني اومالي تاوانونه اوښتي اوهم دري مجاهدین شهیدان او (٤) تنه نور ټپیان شویدي .

رپوټ وائي چې مجاهدینو اوس دشرین تګاب دولسوالي په لوري دپرمختګ په حالت کې دي .

دغه راز دفاریاب ولایت څخه دیو بل راډیوئي پیغام په ترځ کې ویل شوي چې مجاهدینو دفاریاب ولایت په شمال دروسیې پولې ته نږدې دشرین تګاب ولسوالي په شمال (۵۰) کیلومتري ددولت آباد ولسوالي باندې درژیم په (۵۱۱) لوا اودملیشه ؤ دقوماندان زرین دغند په پوستو باندې دجولاي په ۲۹ نیټه تعرضي بریدونه پیل کړي چې په نتیجه کې درژیم قواوي دسختې مرګ ژوبلې په زغملو علاوه دملیشه ؤ قوماندان رسول د (۶۰) تنه او دقوماندان زرین دغونډ څخه (۵۰) تنه ملیشه دیوشمیر وسلو سره بندیان نیولي دي .

په رپوټ کې دمجاهدینو دتلفاتو په هکله تراوسه اطلاع نده ورکړشوي خو دولت آباد ذکر شوي لوا اوغونډ دسولو لپاره لاس پسه لاس حـ...سره . . .

در کندز ۱۶ تن از ملیشه رژیم کابل توسط مجاهدین اسیر گردیدند

یك منبع جهادي به میدیا گزارش داد که مجاهدین به روز ۲۹ جولاي بالاي پوسته هاي چچگران ، وباغ زراعت در(۲) کیلومتري جنوب شرق مرکز کندز عملیات انجام دادند که درنتیجه، آن یك پوسته فتح گردیده (۵) تن ازملیشه ها هلاك و (۱۶) تن دیگر اسیر مجاهدین شدند . طبق راپور دومیل سلاح ثقیله (۱۵) میل کلاشینکوف ویك پایه مخابره (R۱۰۵) به غنیمت گرفته شده است.

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانګر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
دامتیاز خاوند : دافغانستان اسلامي اتحاد
د تأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال دعقرب میاشت
خپرونکي اداره : ددعوت وارشاد ریاست فرهنګي څانګه

سرمقاله

ملي اوسیدونکي خدای په نامه

دقوم پرستی غرشیطاني شعاردی

درنګ ، نسل ، نژاد ، ژبې ، اقتصاد ، سیاست اوخاورې نامعقول توپیرونه چې انسان د خپل جهالت اوناپوهۍ له امله دهغو پراساس انسانیت ویشلی ؤ اسلام هغه ټول له مینځه یوړل اودهغو پرځای یې په سوچه عقلي اساساتو باندې یونوی قومیت او ورورولي جوړه اوبرقراره کړه .

ددغه نوی قومیت بنسټ په مادي اوجغرافیائي توپیر باندې نه بلکې په روحاني اومعنوي توپیر باندې کېښودل شو . کوم خلك چې په روحاني اومعنوي لحاظ په خپلو کښې سره یېل شوي وي په حقیقت کښې دهغوي قومیت او ملیت مشترك دی که په مادي اوجغرافیائي لحاظ هرڅومره سره جداوي هم . او کوم خلك چې د معنوي پیوندونو اوارېکو په لحاظ سره جداوي ، دهغوي قومیت جدادی اګرکه د یوه پلار دوه نسبي زامن وي . په بل عبارت یو عربي اویل افریقائي مسلمان سره وروڼه دي د رنګ ، ژبې ، جنس او خاورې بیلتون د دواړو په مینځ کښې هیڅ بیلتون نشي راوستلای اود یوه پلار دوه زامن چې د عقیدې په لحاظ سره بیل وي ، د هغوي قومیت بیل دی ، نسبي پیوند یې سره نشي نښلولای .

اسلام د نسل او نژاد اړیکه بې اهمیته نه ګڼي ، همدغه اړیکه د پرګنو اوټولنې بنسټ اواساس ښیي ، د خپلو لېو د پیوند غوځول د یوې لویې ګناه اوپه ځمکه کښې د فساد سبب ګڼي خو ددې ترڅنګ دهغې قوم پرستې اوقبیلوي تعصب مخالف دی چې دیني نظر ځای د قوم پرستې نظریې ته پاتې شي . په دې هکله د اسلام نظر په دغه لاندې حقایقو کښې پیژندلای شو :

ټول انسانان د یوه خدای مخلوق اود آدم اوحوا اولاد دی ، له دې امله حقوق اګر که د خپلواړو پرینسټې ولاړدې خوته ښائي چې خپله کوونکي، قوم اوقبیله د حق اوباطل معیار وګرځول شي چې د قوم پالنې اوقومې تعصب له پاره د عدل او ریښتینولۍ لاره پرېښودل شي .

د کورنیو اوقبیلو امتیاز اودرنګ اوژبې توپیر یوازې د پیژندګلوۍ له پاره دی ، دانه د عزت اوشرافت کوم محك دی اونه خدای ته د نژدې والي اومحبوبیت کوم دلیل . د خدای په وړاندې دهغه چا مرتبه اومقام ډیرلوړدی چې له خدایه زیات ویریدونکي اودهغه د قانون اوشریعت زیات احترام کوونکي وي اوهمدغه ټول خلك په اسلامي ټولنه کښې د زیات احترام مستحق دي .

د ټولنیز اوسیاسي ژوندانه له پاره یوازې همغه قوانین صحیح دي چې په خپله الله تعالی له انساني فطرت سره سم وضع کړي دي نه هغه چې د قومي عصبیت له مخې انسانانو ایجاد کړي اووضع کړي دي .

د قرآن اوحدیث په هنداره کښې دغه حقایق داسې ګورو :

الله تعالی د سوره نساء په لومړۍ آیت کښې په دې مفهوم فرمائي :

« اې خلکو ! له خپل هغه رب څخه وویرېږئ چې تاسې یې له یونفس څخه پیداکړئ اودهمغه له جنس څخه یې دهغه میرمن پیداکړه بیایې له همدې دواړو څخه ډیرنارینه اوښځې خواره کړل ، اوله هغه الله څخه وویرېږئ چې دهغه په واسطه تاسې یوله بل نه د مرستې غوښتنه کوئ اودخپلوانو ساتنه او احترام وکړئ ، الله پرتاسې ساتونکی دی » .

په دې مبارك آیت کښې د هغو اساسي اصولو تشریح شوې « چې اسلامي قومیت وړاندې ولاړدی . دلته دوه شیان د خپل مینځې خواخوږۍ اومرستې اساس ښودل شوي دي ، یوله خدایه ویره اوبل د خپلولۍ پیوند، قرابت اوخپلولي که څه هم په وړاندې غځیدو ختمیږي خو په حقیقت کښې د ټول انساني څوځات د نښلولو کړۍ ده خودا د پیژندګلوۍ وسیله ده نه د پرستش ځلی .

د سوره حجرات په ۱۳ آیت کښې په دې مفهوم فرمائي :

« اې خلکو ! مونږ تاسې له یوه نارینه اویوې ښځې څخه پیداکړئ . تاسې مویه کورنیو او قبیلو ددې له پاره ویشلي یئ چې په خپلو کښې سره وپیژنئ ، د الله په وړاندې له تاسې نه ډیر عزتمند هغه څوك دی چې له الله نه زیات ویریدونکی وي » .

اسلام د ټولنې په تشکیل کښې د ژبې اوثقافت مقام اودهغې ټولنیز اوسیاسي ارزښت له نظره ندی غورځولی خود اخلاقي محك پرینسټ یې دښه اوخراب اوپاك اوناپاك ترمینځ په کښې توپیرکړی دی ، داسې نه چې د ملی کلچر په نوم چې هرڅه له هرلورې راټول کړای شي د احترام وړیې وګڼي بلکې کومه ژبه اوادب چې د اسلامي دعوت د خپرولو په لارکښې په کار اچول کیږي له هغې ژبې اوادب سره ډیرفرق لري چې د زهرجنوفاسدو تبلیغاتو او فاسدي نظریې په خپرولو کښې استعمالیږي اګرکه د دواړو لهجه اورسم الخط یوشانته وي .

اسلام هیواد اوخاورې ته خاص اهمیت ورکوي تر داسې حده چې که یومسلمان د خپل وطن څخه ددفاع په لاره کښې ووژل کیږي دهغه مرګ ته د شهادت مرګ وائي خو اسلام وطن هم دحق د اصولو تابع ګرځولی دی ، د اسلام په نظرکښې د انسان قدر اوقیمت دهغه عقلي اواخلاقي موجودیت پرېنادی نه په دې اساس چې د ځمکې په یوه خاصه ګوښه کښې اوسیدونکی دی ، کله چې د عقل اواخلاقو اود خاورې د ایجاباتو اوغوښتنو ترمینځ ټکر راشي نود اسلام توصیه داده چې انسان دې د عقل اواخلاقو ملګرتیا وکړي اودخاورې ایجابات دې شاته وغورځوي .

د مثال په توګه که انسان ونشي کړای چې په خپل هیواد کښې په آزادانه توګه د خپل خدای بندګي اوعبادت وکړي نوبیا دغسې حالت کښې اسلام ورته امرکوي چې یادې له

م.م

داسلام آباد کنفرانس اودهغه څخه دمقاطعی دلائل

محمد یاسر

داسلام آباد دري جهته مجلس چه اساساً ددریو هیوادونو په مسئولیت ترتیب شوي ؤ په نیك قدم ؤ اوددي دریو همسایه هیوادونو دګډې همکارۍ او وروړګلوي لپاره دتفاهم نه موقع وه .

له همدي کبله مونږ ددي غونډې هرکلي وکړ اودګډون لپاره مو موافقه وښوده .

مګر کله چه اسلام آباد ته ولاړو محسن په اجندا اوکیفیت باندي پوه سو همه دا معلومه شوه چه دامجلس دمصطفوي ګډې همکارۍ اوتفاهم لپاره نه ؤ بلکي دافغانستان په داخلي چاروکښي دمداخلي اووصایت لپاره ترتیب شوي ؤ نوبیا داتحاد اسلامي افغانستان هیئت پکښي له ګډون څخه معذرت وغوښت اوله مجالسو څخه ئي مقاطعه وکړه .

زمونږ دمقاطعي دلائل دادي :

دمقاطعی لومړی دلیل : (دملل متحد فیصلی)

دمجلس څخه مخکښي مونږ ته دګډ بیان مسوده وړاندي شوه چه په هغې کښي د ملل متحد پنځه فقره ایزه فیصله تأئید شوي وه اوهغه دافغانستان دقضیې دحل لپاره مناسب حل بلل شوي ؤ .

مونږ دملل متحد دافیصله دافغانستان په داخلي امورو کښي مداخله ګڼو اوداد ملل متحد دمنشور څخه صریح مخالفت دي . دایو حقیقت کښي دروس اوامریکي ګډ تأمردي چه دملل متحد ترنقاب لاندي په مونږ عملي کیږي .

په دي فیصله کښي دافغانستان دمؤقت حکومت لاره او هغه فورمول ته اشاره ده چه غیر دمجاهدینو دحکومت څخه به وي اوزمونږ، دنجیب اوغرب زده ګانو ترمینځ (ډیالوګ) . په نتیجه کښي حکومت جوړیږي داموضوع له خوجهتوڅخه دغندني وړ وه .

۱- دا دنجیب په حکومت باندي دیوافغاني مطرح جهت په حیث اعتراف دي حال داچي هغوي دروسانو اجیران اوګوډاګیان دي اودافغانستان په سرنوشت کښي دګډون حق نلري .

۲- مونږصرف مجاهدینو ته ددي حق ورکوو چه دافغانستان دقیادت په مؤقته دوره او په دائمي دوره کښي خبري وکړي .

زمونږله نظره (انتیرا افغان ډیالوګ)صرف دمجاهدینوپه خپل مینځ کښي خبري دي اوهغه دوام لري چي دهغې په نتیجه کښي تر اوسه حکومتونه جوړشوي دي ، په غرب کښي اوسیدونکي افغانان مونږ دقضې مستقل اوبې طرفه جهت نه ګڼو ، هغوي به یاد افغانستان په خرابي اوبربادي کښي سهیم وي، چي په دي توګه زمونږددښمن په طرف کښي دي اوبابه ئي دجهاد تأئید کړي وي نو بیائي دمجاهدینوپه خوا کښي بولوچي باید دجهادي تنظیمونو له خوا تزکیه اومعرفي شي لکه چي داکارداسلام آباد په مشورتي شوري کښي وشو .

له دي کبله باید صرف مجاهدین دافغانستان په مؤقت حکومت کښي برخه واخلي اوددښمن ګډون په کښي ناجائز اوغیر قانوني اوغیرعادلانه اوغیر عملي بولو .

۳- په افغانستان کښي حکومت جوړول اودهغه فورمول یوه داخلي قضیه ده چه هیڅوک پکښي دموجوده ډیپلوماتیکو اعرافو په رڼاکښي دمداخلي حق نلري .

٤- په داسي حال کښي چي دمجاهدینو دوه حکومتونه جوړ شول اوملل متحد ددي په عوض چه په دي حکومت دمؤقتي دورې لپاره اعتراف وکړي دبل حکومت خبري کول ددي حکومت په بطلان باندي توافق کول دي زه تعجب داکوم چه څرنګه حضرت صاحب صبغت الله مجددي هم د مؤقت حکومت درئیس په حیث خبري کوي اوهم دبل مؤقت حکومت په هکله دملل متحد فیصله مني .

٥- عام انتخابات چي په هغه کښي حزب وطن هم دګډون حق ولري زمونږله نظره ناروا اوظالمانه فیصله ده. ځکه مرتد اوزندیق په اسلامي ټولنه کښي دژوند حق نلري اوچاته چه اسلام دژوند حق نه وي ورکړي ،نومونږڅنګه ورته دانتخاباتوبه حق قایل شو .ځکه دانتخاباتو حق ورکول دامعني لري چه که چیري یې اکثریت وګټه نو دافغانستان امامت اومشري به ئي په غاړه وي که چیري دوي ته داجازه واي مونږبه دا پنځلس کاله خپل جنګ ته جهاد نه وئیل اوله به مو انتخاباتوکښي ورسره ګډون کړي ؤ اوکه وائي چه اوس ئي توبه ایستلي ، دوي هغه وخت کله ځانونوته کافران وئیل او اوس ئي کله په دي اعتراف کړي دي چي دوي کافران وو او اوس نوي مسلمانان شول .

٦-اوربند اعلانول مخکښي لدینه چه اسلامي حکومت جوړشي داهم دملل متحد دفیصلي غوښتنه ده پابه مؤقت حکومت چه د ټولو افغاني جهتونو په شمول جوړیږي اسلامي حکومت وي او اعلاء دکلمة الله به راغلي وي او بیابه اسلامي حکومت نه وي که چیري داحکومت اسلامي حکومت دي نو بیا دهغې مخالفت جائز ندي اوکه چیري انتخابات عملي تکړي مونږبیا دملت څخه دجهاد غوښتنه نشو کولاي ځکه اسلامي حکومت جوړشو او اعلاء کلمة الله راغله .

اوکه چیري اسلامي حکومت نه وي او اعلاء کلمة الله نه وي راغلي نو د اوربند اعلان دجهاد دفتري دالغاء اعلان دي (اوقاتلوهم حتي لاتکون فتنه) *

م.ب

حقپالونکي بیبیاني

ترجمه اوتلخیص «کشاف»

حضرت أم هانی بنت ابی طالب رَضی الله تعالی عنها

د حضرت ام هاني د اصلي نامه په باب مختلف روایتونه راغلي دي ، چا فاخته ، چا فاطمه اوچا هند بودلی دی . د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره ابوطالب لوره ، دمور نوم یې فاطمه بنت اسد ؤ ، حضرت جعفر طیار (رض) ، حضرت عقیل (رض) ، حضرت علي کرم الله وجهه اوطالب دهغې مشکي وروڼه وو.

د هغې نکاح له هبیره بن ابي وهب سره شوې وه چې د بنو مخزوم له کورنۍ څخه ؤ. هغه د مکې د فتحې په وخت کښې چې د هجرت د اتم کال د رمضان د میاشتې واقعه ده د شرك په حالت کښې د نجران خواته وتښتېده ، له هغه ځایه دهغه دبیرته راستنیدو او اسلام راوړلو په اړه کوم روایت نه میندل کیږي.

د حضرت ام هاني د اسلام راوړلو په هکله ټول سیرت پوهان اتفاق لري خو د ایمان راوړلو د وخت په باب یې مختلف روایتونه راغلي دي ځینې وائي چې د مکې د فتحې په وخت کښې د ایمان د خزانې مالکه شوې وه او ځینې نور وائي چې دمخه یې ایمان راوړی ؤ خو خپل ایمان یې نه ؤ ښکاره کړی.

د مکې د فتحې په لړکښې د حضرت ام هاني (رض) په باب روایتونو څخه معلومیږي چې دمخه یې ایمان راوړی ؤ او له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې ډیره مینه او اخلاص درلوده . رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دهغې ډیر زیات رعایت او لحاظ ساته . د مکې د فتحې په وخت کښې چې ام هاني (رض) کومو مشرکانو ته په خپل کور کښې پناه ورکړه ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم هغو ته پناه ورکړه . سربیره پردې په خپله یې هم دهغې کورته تشریف یوړ او هلته یې لمونځ اداکړ.

په مسند احمد بن حنبل کښې راغلي دي چې د مکې د فتحې په وخت کښې حارث بن هشام مخزومي او زهیر بن امیه مخزومي د حضرت ام هاني (رض) کورته پناه ورغلل . حضرت علي کرم الله وجهه چې خبر ورسیده نو توره یې په لاس د خپلې خور کورته ورغی ، غوښتل یې هغوی ووژني ، حضرت ام هاني (رض) د کور دروازه وتړله وې ویل :

«دوی زما کورته پناه راوړیده ، هیڅوک به یې ترې [illegible] چې ووژل شي .»

له هغې وروسته یې دواړه له ځانه سره د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم حضور ته بوتلل . پیغمبر صلی الله علیه وسلم دهغې په لیدو وفرمایل : مرحبا یا ام هاني ! څنګه راغلې ؟

حضرت ام هاني عرض وکړ : «یا رسول الله ! ما دغو دواړو ته پناه ورکړې ده او علي (رض) غواړي ویې وژني »

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : «چا ته چې تا پناه ورکړې ده هغو ته ما هم امن ورکړه »

له دې پیښې نه پس حارث بن هشام او زهیر بن امیه دواړه د زړه له کومې اسلام ومانه.

په صحیح بخاري او صحیح مسلم کښې په خپله له حضرت ام هاني (رض) څخه روایت دی چې د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم زما کورته تشریف راوړ ، هلته یې غسل وکړ او اته رکعته لمونځ یې اداکړ ، ماله دې نه زیات دغه (ص) بل کوم لمونځ مختصر او آسانه نه ؤ لیدلی خو رکوع او سجده به یې په پوره توګه اداکوله . په یوبل روایت کښې یې دا هم ویلي دي چې دا د څاښت وخت یا د څاښت لمونځ ؤ.

په مسند ابوداؤد او سنن دارمي کښې له حضرت ام هاني څخه روایت دی چې د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم زما کورته تشریف راوړ ، بیا خدمتګارې په یو لوښي کښې د څښاك کوم شی (شربت) راوړ ، هغه یې ورته وړاندې کړ ، هغه (ص) یو څه وڅښه او نور یې ماته راکړ ، ما هغه وڅښه او بیا مې عرض وکړ چې یا رسول الله ! زه روژه وم او شربت مې وڅښه ، هغه پوښتنه وکړه : «قضائي روژه دې نیولې وه ؟» عرض مې وکړ : نه . وې فرمایل : «روژه دې که نفلي وه نو څه باك نشته» .

د مسند احمد او ترمذي په یو روایت کښې داسې راغلي دي چې حضرت ام هاني (رض) وویل : یا رسول الله ! زه روژه وم ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : «نفلي روژه نیوونکی د خپل نفس مالك دی ، که یې خوښه وي ودې نیسي او که یې نه غواړي نه دې نیسي» .

په مسند احمد کښې دا هم راغلي دي چې حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورڅخه د روژې ماتولو د سبب پوښتنه وکړه ، هغې عرض وکړ چې ما غوښتل ستا پس خوړه وڅښم .

دغه حدیث په واګه ثابتوي چې حضرت ام هاني (رض) د مکې له فتحې نه دمخه په اسلام مشرفه شوې وه ، د خدای عبادت کوونکې او حقپالونکې وه او ددې خبرې بیلګه هم ورڅخه راوځي چې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې ډیره زیاته مینه وه .

یو بل تاریخي حقیقت چې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره دهغې خواخوږي او رازداري ثابتوي د محمدي معراج واقعه ده ، هغه ستره واقعه چې له هجرت نه مخکښې د بعثت د لسم کال درجب د میاشتې په ۲۷ نیټه د دوشنبې په شپه پیښه شوې وه او قرآن کریم ورته داسې اشاره کړې :

«پاکي دهغه ذات لره چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد الحرام نه مسجد اقصی ته بوته چې دهغه

نبرد ما با یهود

ای فدائیان به راه خود ادامه دهید

بقلم : استاذ سید قطب
ترجمه : عبدالحق عتید

«نبرد ما بایهود » عنوان کتابیست که استاذ سید قطب آنرا به رشته، تحریر درآورده ومطالب بس ارزنده وقیمت داري را به خوانندگان عرضه میدارد ، وما بخاطر اهمیت این مطلب آنرا دربخش هاي مختلف به نشر مي سپاریم .

اکنون فرصت آن فرارسیده تا این حقیقت راکه هیچ نوع غموض وابهام دران نیست آشکارا وصریح ، جرأتمندانه به حکومت بازگو نمائیم . فرصت آن رسیده تا به حکومت بگوئیم که گروپ هاي فدائیون هرگز دربرابر سیاست محاصره سازي که حکومت قصد آن را دارد سرتسلیم نخواهند گذاشت ، نه ، فدائیون هرگز خودرا به چوبه، اعدام نخواهند سپرد ، وبه این آساني وسهولت دست ازوجیبه، خویش برنخواهند داشت ، نه ، ابداً چنین نخواهند کرد . حکومت هرآنچه خواهد انجام دهد ، زیرا این حکومت پابند ارتباطات بین المللي ، پابند تصرفات رسمي خویش است . این حکومت درمیان شراره، جنگ، فکر صلح وآشتي بادشمن را دراندیشه، خویش مي پروراند ، ودرحالیکه خون مصریها ریختانده شده وآبرو وحیثیت شان درهرجا زیر پامیشود ، باوسایل دیپلوماتیك خودرا مشغول میدارد .

چنین حکومتي که هنوز معتقد است که ما درحال صلح باانگلیس بسر مي بریم ، این طرز اندیشه مقتضي آنست که باید روابط سیاسي میان دوکشور باقي مانده ، وعلاقات اقتصادي بصورت عادي درمیان دوکشور ادامه یابد ، این امر به نوبه خویش مقتضي آنست که باید پولیس مصر همراه بانیرو هاي اجنبي ، درتعقیب ودستگیري فدائیون ، وتفتیش خانه هاي ایشان براي بدست آوردن سلاح هاي اختطاف شده همکاري نماید ، این حکومت صلاحیت آنرا ندارد که فدائیان خود ، وسلاح خویشتن رابه وي تسلیم دهند، تاآنها راپسان سپاه وپولیس کشور در رواق بگذارند ، ویا آنها را چون رجال پولیس به بازجوئی اسلحه اختطاف شده به نفع انگلیس مکلف سازد .

من نمیخواهم این حکومت را به خیانت متهم سازم ، ولي میخواهم حقیقت را بیان نمایم ، میخواهم این حقیقت را بگویم که این حکومت ، حکومت مبارز وجنگ آور نیست بلکه این حکومت ، حکومت است که هنوز اندیشه گفتگو وصلح ، وراه حل دیپلوماتیك را درخیال مي پروراند ، این حکومت میخواهد به مذاکرات ، واحتجاج ها وعکس العمل هاي منفي دربرابر دشمن، اکتفانماید !

من ازین حکومت نمیخواهم که جنگ راعلیه دشمن آزادانه اعلان کند ، ویا درچنین شرایطي ناگوار سپاه مسلمانان را به صحنه، نبرد اعزام دارد ، اما من ازین حکومت میخواهم که مردم را آزاد بگذارد تا وجیبه، خویش راادانماید ، واگر چنین نکند این ملت حتماً وجیبه، خویش را به سرخواهد رساند ، برابراست که حکومت ازوي رضایت داشته باشد ویا نداشته باشد، ملت وجیبه، خودرا به سرخواهد رساند ، برابراست که این حکومت درپهلوي وي باشد یا برعلیه وي ، اگر حکومت بخواهد که گرهم چوشرایط ناگوار، درمیان مردم وبه سر رساندن وجیبه، شان حایل قرارگیرد ، دران وقت مسئولیت پي آمد هاي خطیر که این جنگ هاي ذات البیني بجا خواهد گذاشت، بدوش خواهدگرفت .

من میدانم نظام سرمایه داري که این حکومت درسایه، آن حیات بسر مي برد خوش دار آن نیست که مردم سلاح بدست گیرند ، وخوش دار آن نیست که مردم بخاطر برپا ساختن نبرد آزادیخواهي تمرین وآموزش ببینند ، زیرا نظام سرمایه داري ازان بیم دارد که مبادا چرخ ملت - حتي براي رفع تجاوز بیگانگان ازمیهن خودشان - به حرکت درآید ، زیرا اگر این چرخ یکبار به حرکت درآید دیگر تا آندم که همه آزادي ها را بدست نیاورده است ازحرکت بازنخواهد ایستاد .

من میدانم که سرمایه داران همیشه داراي این طرز اندیشه وتفکر اند ، وایشان به این لحاظ ازقیام ملتها وحرکتها ومسلح شدن مردم درخود مي لرزند ، وازآن بیم مي کنند .

من نمیخواهم امروز آنها را متهم سازم ، بلکه میخواهم واقعیت رابیان نمایم میخواهم این حقیقت رابیان کنم که ترس حکومت ازمردم است که وي را به حمله محاصره کشانیدن دسته هاي فدائیون ، ودسته هاي آزادیخواهان وامیدارد .

من باآواز رسا به این ملت وجوانان فداکارآن میگویم که باید احتیاط پیشه کنند ، ودرتحت هیچ نوع فشاري نباید ازاداي وجیبه، مقدس خویش خودداري نمایند .

اگر حکومت بخواهد که این آژیر خطررابشنود ، باید مردم را درمبارزه ایشان بازگذارد ، وازیه محاصره کشانیدن دسته هاي فدائیون خود داري کند ، اگر چنین کنند پس اوراست سپاس ما ، واوراست عنروي ، ودرمیان ماکسي نخواهد بود که ازحکومت بالاتر ازقدرت وتوان وي چیزي مطالبه کند .

زیرا درمیان ماکسي نخواهد بود که به حکومت بگوید که حتماً دستور جنگ را پیش از آماده ساختن خویش اعلان نما ، ولي ما حق آنرا داریم که زنگ هاي خطر رادرگوش وي بنوازیم ، وبرایش بگوئیم که هوشدار که ناخن هاي ملت راقلم کني، هوشدار که نهضت مبارزوي ملت را درمحاصره آري ، زیرا ملت درکمین است، وفدائیون درسنگر آماده، پیکار اند!

من درحالیکه این حقیقت را بي پرده بیان میدارم ، میدانم که من چه میگویم، حرکت فدائیون امروز قوي تر ازنیروي حکومت است ، واین دسته خودرا به آساني تسلیم نخواهند کرد وسرتسلیم فرود نخواهند آورد .

این گروه فدائیون دربرابر انگلیس جهاد خواهند کرد ، وانگلیس ها رانابود خواهند ساخت ، موادکمکي را به روي انگلیسها خواهند بست ... اگر حکومت بخواهد که راه رابه رخ وي بازگشاید این چه بهتر ، والادرمعرض پاکسازي فدائیون قرار خواهد گرفت .

من این حقیقت رابیان میدارم ومیدانم که من چه میگویم ، من این حقیقت را درحال بیان میدارم که ازعواقب خطرناك وپي آمد هاي وخیم آن که هرگاه اگر حکومت جلو راه حرکت فدائیون رابگیرد درخود مي لرزم ، ودلم به حال وي مي سوزد که اگر حکومت سعي کند که قانون حمل سلاح را مطابق به تهدید خویش به مرحله، اجراء گذارد ، این قانون به آساني به سرنخواهد رسید .

زیرا نهضت فدائیون قاطعانه تصمیم گرفته است که به عملکرد خویش دست زند ، پس واي به حال آن کسي که درسر راه وي قرار گیرد .

بلي حکومت میتواند که به گروه هاي ظاهري ، گروههاي طبل ورباب ، گروههاي که درجاده ها وسرك ها رسم گذشت مي کنند ورژه مي روند ، دست یابد ، زیرا این گروه ها کدام ارزش ووزني ندارند ، وملت با انضمام این گروه ها به دولت ، هیچ زیاني نخواهد دید .

امافدائیون مسلمان ، فدائیون که نه خود ، ونه شهرت خویشتن ، ونه جاي ومکان تدریب خویش را به کسي نشان میدهند . فدائیون که بدون درنظر داشت نام وشهرت ، لقب ونشان کارمي کنند ، فدائیون که خود را فداي اداي این وجیبه، مقدس نموده اند ، به این راه ادامه خواهند داد ، این دسته ازفدائیون هرگز وبه هیچ صورت خودرا تسلیم حکومت

م.ع

داسلام آباد کنفرانس

ددي څـخـه دابـکـاري چـي زمونږجنګ دخلقیانوسره په انتخاباتو باندي ژ چه هغوي انتخابات نه منل او مونږ ترینه انتخابات غوښتل اواوس ني چي عام انتخابات ومنل دجنګ دلیل منتفي شو او اوریند اعلاتوو.

چاچه دملل متحد په فیصله موافقه کړي ده اوپاتي مخالفت نکوي په حقیقت کښي یې داتولي خبري په شعوري اویاغیرشعوري توګه منلي دي .

۷- مونږچه کارمل،نجیب اوترکي ته ګوداګیان وایو داځکه چي دکافرانو فیصلي ني منلي اودهغوي ترااداري لاندې کارکاوه اود پردیو دفیصلي په نتیجه کښي پرمونږ تحمیل شوي دي که چیري مؤقت حکومت دمجاهدینو په اشتراك د پردیاود کافرانو دفیصلي په اساس جوړشي نوبیا به ولي ګوداګیان نه وي ؟ یواځي فرق به یې داوي چي هغوي زیږي نه درلودي اودااوارېه زیږور ګوداګیان دهغوي ځاي نیسي ، آزادي اواستقلال ، حریت او اراده به مو له لاسه ورکړي وي .

دمقاطعی دویم دلیل : (په داخلی امورو کښی مداخله)

د پاکـسـتـان اودایران حکومت چه دملل متحد پرفیصله موافقه کوي په حقیقت کښي داتولي خبري زمونږ په حق کښي منی اودازمونږپه داخلي امورو کښي صریحه اوناروا مداخله ده .

اګرچه داسلامي دیپلوماسي په رڼا کښي داحق ټولو مسلمانانو ته حاصل دي چي داسلام اوداسلامي خاوروپه هکله نظر ولري خوداحق باید دوجانبه وي که چیري دایران حکومت په افغانستان کښي داهل تشیع لپاره دځوکي اخیستلو مطالبه کوي بیا باید مونږ ته هم داحق حاصل وي چي په ایران کښي دلس ملیونه اهل سنت ورونودحقونو پوښتنه وکړو اوهم په پاکـسـتـان کښي داسلامي نـظـام جوړیدوکښي قانوني نظرولرو .

پـاکـسـتـان اوایـران زمـونـږ انـصـارملـکـونـه دي انـصـار بـایـد دمهاجروداهداقو ترسره کولو پوري مرسته وکړي داګیدي اوکړي نصرت ندي بلکه دهدف اومرام نصرت دي دمدینې انصارودمکي له فتحي څخه وروسته هم دفارس اود روم په فتح کښي برخه واخیسته اوداني ونه وبیل چه زمونږوظیفه دمکي په فتحي سره خلاصه شوه اوس چه دکابل نظام دماتي سره مخامخ دی اومونږ دروسانو اوامریکانیانو دګډي دښمني سره مخامخ یو دپاکستان اوایران همسایه ملکونه باید زمونږسره دنصرت حق اداکړي زه خو ډیر تعجب دایران انقلابي سیاست ته کوم چي په داسي حال کښي چه نه شرقي اونه غربي شـعـارئـي پـورتـه کـړي اوددنیادمستضعفینو دکمك دعوه ګیراودعدم سازش سیاست ئي غوره کړي ژ څرنګه اوس دملل متحد دفیصلي دتطبیق په هکله وساطت کوي اودمستکبرینو په څنګ کښي دریږي اودانقلابي ژبي پرځاي زمونږسره دنوي زده کړي دیپلوماسي په ژبه خبري کوي.

زه دومره پوښتنه کوم چه آیا دملل متحد دکفري اداري فیصله دمسلمانانو په هکله منل تحاکم إلى الطاغوت ندي په داسي حال کښي چي (وقد امرنا ان نـکـفـربـه) اودټـولـو افـغـانـي اطرافـومشـارکت مـونږ څخـه غـوارې پداسي حال کښي چي دوي تـراوسه مفتي زاده ته دمشارکت حق ندي ورکړي (یك بام ودوهوا) سیاست ولي چلوي .

دایران دبهرنیوچارودوزارت دهیئت غړي اوپه اسلام آباد کښي دایران پښتواني سفیراقاي موسوي زمونږ مجلس ته راغي اوویې ویل چي داخلوړاړخیزه خبري چي باید وشي په هغي کښي دایران دمیشته تنظیمونو شمیردومرد مهمه خبره نده که دا اته کسان چي راغلي دي ټول په مجلس کښي ګډون وکړي ښه به وي .

اوڅلوراړخیزي خبري هم دومره مهمي ندي ځکه چي یومیزڅلورخواوي لري هري خواته به یې یو طرف کیني .

دمقاطعي دریم دلیل : (څلوراړخیزی خبری)

پدي ځاي کښي زمونږ دمجاهدینو ټولو مشرانو داپریکړه وکړه چي مونږ دایراني هیئت داغوښتنه چي اته نفره دي دحزب وحدت ګډون وکړي پداسي حال کښي چي دنوروتنظیمونو دي دري دري کـسـان وي اودوي دي دیومستقل جهت په حیث کښیني دمنلوړنده پدي توګه مونږغونډې ته تیار نه یو اوکه چیري دوي خپلو غوښتنوڅخه تنازل ونکړ نو مونږبه مجلس ته نه ورځو. اواته کسان دهغوي دخلورویشتو په مقابل کښي داهغه نسبت دمشارکت دي چي اقاي موسوي ددوي لپاره په مشورتي شوراکښي غوښتي ژ . (بزدرغم جان کندن وقصاب درغم چربو) .

اودخلورطرفه مجلس معنا داده چي افغانستان به په دوه پارته ویشل کیږي پاکستاني پارټ افغانستان اوایراني پارټ افـغـانـسـتـان . اوددي منل دافغانستان دسیاسي ویش فیصله ده .

د (هـالـدي آن) هـوټـل پـه میلمستیا کښي چي د پاکستان دبهرنیوچارودوزارت لخوا جوړه شوي وه په هغي کښي دخارجه وزارت جنرال سکرتري اکرم ذکي اودایران خارجه وزیر ولایتي خبري وکړي اود خپلو هیوادونودریځ بي حرګند کړ اوحضرت صاحب صبغت الله مجددي دافغانستان په نمایندګي خبري وکړي اوپه خبروکښي یې وویل : (ماتحت امر شما هستیم هرمشوره ایکه براي حل قضیه کمك میکند قبول میکنم) پس لـه هـغـه مـرتـضـوي دایـران پـارت مجاهدینوپه نمایندګي خبري وکړي . هغوي نبابد دمستقل جهت په توګه خبري کړي واي ځکه حضرت صاحب دافـغـانـسـتـان خبره وکړه اوددوي خبرومجلس بیا خلورجهته کړپداسي حال کښي چي دوي زمونږسره موافقه کړي وه چي دوي به دمجاهدینو دهیئت جز وي اودري کسه به اشتراك کوي . اودلته دفیصلي څخه مخالفت وشو . له میلمستیاڅخه وروسته رسمي مجلس دبهرنیو چاروپه وزارت کښي پیل کیده ، زمونږټولو فیصله داوه چي که چیري دفیصلي څخه مخالفت وشو مونږ به ګډون نه کړو مګر متأسفانه چي هغوي ګډون وکړ . دحزب اسلامي دهیئت نظر داؤ چي مونږ به دمجلس له مـیـنـځ څـخـه مـقـاطـعـه کـوؤ اومونږداتحاداسلامي افغانستان هیئت مجلس ته دداخیدو څخه مخکښي مقاطعه وکړه اوخپل موقف مو په اخبارونوکښي اعلان کړ.

دسیاست دجفا یوه خبره داهم ده چي ایراني هیئت دایت الله اصف محسني دتنظیم دګډون مخالفت کریدي ځکه چي هغه آزاد افغاني موقف درلود البته پدي هکله دهغه تنظیم موقف (چي پدي غونډو کښي بي اساسأبرخه نه وه اخیستې عذر غیابي نه ده بلکي مقاطعه وه) هم دیـادونـي وړدي اوالـلـه دي زمـونـږ مشرانوته توفیق ورکړي چي پداسي نازکو اوحساسوحالاتوکښي دمیړني اوقهرمان افغانستان حیثیت اومیړانه وساتي اومناسب تمثیل وکړي . اوزه داتحاداسلامي دهفته نامي لوستونکوته داوعده ورکوم چي داسي تاریخي مجالس اودهغوجریان به حتي الوسع دوي ته وړاندې کوم ترڅوچي خپل دوست اودښمن وپیژني اودبصیرت په اساس مواقف ونیسي .

ملګري ملتونه یا دڅو ملیتي کارتل تصویر

دویمه برخه

لیك اوژباړه : محمد نصیر مدثر

